# عزیر جان دَ مانیرئے

ځــه ګرځــه لیــونے لیــونے ورانــه لیونیــه
خــو دا کــوځے بــه نــه پریــدے جانانــه لیونیــه
پــه دے هوښــیارو خلکــو کښ نادانــه لیونیــه
مــونږ تــول رالیــوني کــۀ عزیــر جانــه لیونیــه

دَ میــنے دَ مســلک او دَ مکتــب دَ جنــون اورۀ
مــونږ هــم درســره خــلاص کــۀ دَ ګریوانــه لیونیــه
مونږ ټول دَ فکر و فن دَ تصویرونو پـه خیـال پوئے کۀ
مــونږ ټولــو تــه کــۀ دا ګرانــه اســانه لیونیــه

هم دغه سودا ستا غوندے سړی پـه سر کښ ښـه ده
راګرځــه مــه دَ میــنے دَ ســودا نــه لیونیــه
کړنګیــږه او شــړنګیږه او غګیــږه روان اوســه
جــرس وی مــدام مخــکښ دَ کاروانــه لیونیــه

چــه دَ پښــتون ســحر تــه لاړے نيســی
دا دَ بهـــار خبــر تـــه لاړے نيســـی

دَ ښـاپيرک خـو نمر تـه سترګے بريښـی
ښنـګ بـه ختلـی نمـر تـه لاړے نيسـی

پــورے را پــورے چــه دَ زړۀ نــه اوځــی
ښنګ به ښوک د ے نظر تـه لاړے نيسی

دوه لاړے دوه ګـــودره يـــو مـــازيګر
ســړے بــه کــوم ګــودر تــه لاړے نيســی

جانـــان چـــه کلــه دَ هــوا مارغــه شــی
ســـړے بـــه چرتـــه ورتـــه لاړے نيســـی

ســړے شــی ښــومره مړغيــږن **ســـائله**
چـــه دَ ژونـــدون هنـــر تـــه لاړے نيســـی

www.sikaraam.com

زلفے دِ ولے ورانے ورانے کړے راتهولے ئے کۀ
زما جذبے دَ پریشانے کړے راتهولے ئے کۀ

خال دِ ریدے، مخ دِ ګلاب، شونډے دِ نور ګلونه
خورے دِ ډیرے ښکلاګانے کړے راتهولے ئے کۀ

کاسه دَ زړۀ، دَ سترګو غلا، جولئ د اوښکو ډکه
کوچیانو بیا کډے روانے کړے راتهولے ئے کۀ

سترګے چه کوم لوری ته هم اړوی اور لګوی
لمبه لمبه دِ ګل دامانے کړے راتهولے ئے کۀ

بنجاری زړۀ، لونګ رانجۀ، دنداسے څوک اخلی
خورے دِ چاته سوداګانے کړے راتهولے ئے کۀ

چرته دِ تلونکے دی دَ اوښکو لیونئ قافلے
**سائله** خلکو میینے ګرانے کړے راتهولے ئے کۀ

❀❀❀

ستړګو مِ سوال اوکړ جواب ئې راکړ
ګلاب ګلاب ئې کړم ګلاب ئې راکړ

ګل ئې په يو لمبه په بل لاس کښې وه
ولې اختيار دَ انتخاب ئې راکړ
کاڅې دَ ستړګو ئې راواړولې
رنګ دَ خمار دَ ميوناب ئې راکړ
ما ورته وې چه آدم خان به مِ کړې
هغه درخو شوله رباب ئې راکړ
ما پيژندې ستا بې مروته ستړګې
ګناه مِ هيڅ نه وه عذاب ئې راکړ
تاته دَ خپل يو نظر څه پته وه
چه څومره توان او څومره تاب ئې راکړ

ما وې زه ځان ژوندې ساتل غواړمه
راغلئ دَ خپل **سائل** کتاب ئې راکړ

۱، ۳، ۲۰۱۱ء

www.sikaraam.com

راشــه لکــه گــل مِ شــه پــه زلفــو کښ
راشــه چــه دَ خپلــو زلفــو بــاد دِ کــړم

دلتــه کــۀ لمبې کــوے خــو خانــد ے بــه
ښــه ئے کشــمالے او کــۀ شمشــاد دِ کــړم

وے مِ ســتا دَ زلفــو دام کښ گیــر شــومه
وے ئــے کــۀ خفــه ئــے چــه آزاد دِ کــړم

تــۀ خــو یــو کمــال دَ بــل دَ پاســه کــړے
راشـــه چـــه ســـندره دَ هیـــواد دِ کـــړم

تــۀ کــۀ ئے **ســائل** زۀ هــم ځــۀ یمــه ښــه
اوایـــه زاری او کـــۀ فریـــاد دِ کـــړم

۲۲م اپریل ۲۰۱۲ء

www.sikaraam.com

# دَ ماشومانو سندره

مـا ئـے دَ ســتورو نــه پــه زور راتختــولے گــوډئے
يـه زمـا ښـکلے گـوډئے، ښـکلے گـوډئے ښـکلے گـوډئے

مــا لکــه گــل دَ گــل دَ څــانګے شــو کولے گــوډئے
يـه زمـا ښـکلے گـوډئے، ښـکلے گـوډئے ښـکلے گـوډئے

راځـه چـه لـوبے اوکـو دواړه گـوډئے
زار گوډئے ښکلے گوډئے
کينـه خونـد نـهٔ کئ پـه ولاړه گـوډئے
زار گوډئے ښکلے گوډئے

تــهٔ پــرون چرتــه وــے دَ چــا ســره وــے تلــے گــوډئے
يـه زمـا ښـکلے گـوډئے، ښـکلے گـوډئے ښـکلے گـوډئے

چه زهٔ او تهٔ وـے نور څهٔ نهٔ وـے گوډئے
زار گوډئے ښکلے گوډئے
هر څوک زمونږ په تماشه وـے گوډئے
زار گوډئے ښکلے گوډئے

www.sikaraam.com

په نه خندا کښ دِ په شونډو کښ خندا جوړه کړۀ
ماتــه دِ يــه ښــکليه ګرانــه خامخــا جــوړه کــړۀ

چـه ستا پـه يـاد کښ زۀ يـوه سـندره هـم اولـيکم
پـه زړۀ کښ وايـم دا خـو مـا نـوے دنيـا جوړه کـړۀ
تــا دَ شــپے اوښـکے دَ ګـلاب پـه مـخ راڅنډ وهلـے
تا وے شبنم دے ما تـرِ ټول ژوند لـه رنړا جوړه کړۀ
خدائے وو د دے دنيا تـړون پـه نـوم دَ ميـنے کـړے
چه مينه خلکـو تـه شوه خلکـو تـرِ ګناه جوړه کـړۀ
حسن دِ لګ خور وۀ چه زلفے دَ پـړے هم خورے کـړے
تۀ خـو پـرے لـوبے کـوے مالـه دِ سـودا جوړه کـړۀ
دا زلزلـه راغلـۀ کـۀ سـتا دَ خپـو ښـکالو اورمـه
يــره دا ولــے مِ بــے واره زړۀ درزا جــوړه کــړۀ

تــا شــائد هــر چاتــه پــه دغســے نظـر ورکتــل
سـتا دا کتـل څـۀ وۀ **سـائل** تـرِ تمنـا جـوړه کـړۀ

www.sikaraam.com

تـهٔ ځـان لـه تماشـه وے دَ ګلونـو پـه جـامو کښ
زهٔ ځـان لـه وژم ګـلاب دَ پرهرونـو پـه جـامو کښ

ستا ياد دَ سرو لمبو، سرو غرغنډو مازيګرے وژ
مـا کـړے انتظـار وژ دَ اورونـو پـه جـامو کښ

تـل وړی، زمـا دَ ويخـو ويخـو سترګو نـه خوبونـه
سـتا سـترګے خوبـولے دَ خوبونـو پـه جـامو کښ

زمـا او سـتا دَ مينـے ليـونئے سـندرے غـواړی
سـپرلے دَ فطرتونـو دَ رنګونـو پـه جـامو کښ

زهٔ مست لکه "ريدے" يم دَ داغونو پـه جـامو کښ
تـهٔ خـوب لکـه دَ ګـل ئے دَ خـالونو پـه جـامو کښ

تـا وے راتـه **سـائله** دا تـهٔ چرتـه رانـه ورک شـے
مـا تـهٔ سـنګارولے دَ خيـالونو پـه جـامو کښ

جون ۲۰۱۲ء

www.sikaraam.com

دا دَ سائل زړۀ دے په دے کښ به لمبے هم وی
په دے لمبو کښ به جانان جانان سپرلے هم وی

خدایه په هر ځائے کښ دَ سکنړو ښکلو تخم ډیر کړے
چه دَ هر چا په دیوال یو نیم کشمالے هم وی
ستا په اقرار کښ دے انکار او په انکار کښ اقرار
ما اوریدلی چه دَ ګل سره ازغے هم وی
زړونه بائیلل اسان دی زړونه ګټل ډیر ګران دی
دَ محبت په جوارئے ناست لیونے هم وی
هجر کافر مسلمانئے ته ښکلی هم نۀ پریږدی
دَ جانان ګل شونډو نیولے یو پترے هم وی
ماته حیران حیران زیر زیر وارخطا ولے ګورے
چه باران نۀ کیږی نو مړاوے منجرے هم وی

**سائله** ګل دَ مینے صرف په رښتیاؤ پائی
په تصویرونو کښ خو رقص هم وی نغمے هم وی

۸م جولائی ۲۰۱۲ء

www.sikaraam.com

شــپه چــه مِ ســتا دَ انتظــار پــه بیابــان اوکــړۀ
دلتـــه مِ ســر ســنړه دَ میـــنې دَ ارمـــان اوکـــړۀ

ســحر دَ خوبــه ډکــې ډکــې ســترګې پا ســید مه
ســترګو مِ ســتا ثنــاء دَ اوښــکو پــه بــاران اوکــړۀ
تیرې به تـورې وی خـو مـا بـه آخـر ځنـګ پټـوی
دَ بــریخ دَ پــړق پــه شــان رنــړا مــاه تــان اوکــړۀ
سپوږمئ په غیږه کښې نن لوبو لـه دَ ستورو یـوړم
مــا مِ دَ کــور دَ انګنــړ مینــه پــه آســمان اوکــړۀ
چــه چرتــه چرتــه رقابــت وؤ هلتــه اور اولګیــد
مــا چــه خبــره دَ خپــل ګــل غونــد ې جانــان اوکــړۀ
په موده پس ئې شونډې پرانستې خندانې شونډې
زمــا پـــه زړۀ ئــې کرونـــده دَ ګلســـتان اوکـــړۀ

خیــال دَ جــونګړې وی پخپلــه تــاج محــل ســائله
کـــۀ تـــذکره چـــا دَ مـــیکن او دَ مکـــان اوکـــړۀ

❀❀❀

ماضی او مستقبل، وطن او قام ځلور غمونه
دے ټولو ته مِ تل لوګے لوګے کړل نور غمونه

کۀ حسن چرته وی چه پړے دَ زلفو سورے اوکی
دَ زړۀ په دشت مِ ځی دَ ښتنو سرتور غمونه

راځئے چه پکښې تاب، چه پکښې توان دَ ژوند پیدا کړو
بے تابه دی زمونږ دَ تالا شوی کور غمونه

سپرلے د دَ سرو شونډو دَ خندا په شانِ راشی
پښتانِ دِ دَ ګلونو مونږ له کړی سمسور غمونه

هم دا ورځ به زمونږ دَ ربښتونے آزارئے وی
دَ خپل غمه چه بیل کړو دَ پردو دَ زور غمونه

